**CLB** څه شی دی؟

**CLB** د زده کوونکو له لارښود مرکز (Student Guidance Centre) (*Centrum voor Leerlingenbegeleiding*) څخه اخیستل شوی دی. CLB زده کوونکو ته د هغوی د زده کړې په دوره کې لارښوونې او ملاتړ چمتو کوي. ټول ښوونځي له یوه CLB سره وصل دي. CLB له ښوونځي څخه په خپلواکه توګه فعالیت کوي. د CLB خدمتونه تل وړیا دي.

**CLB د چا لپاره په پام کې نیول شوی دی؟**

CLB په لومړي قدم کې د زده کوونکي لپاره دی. هغه تاسو یاست! تاسو کولای شئ CLB ته له خپلو پوښتنو سره لاړ شئ. CLB همدارنګه ستاسو د والدینو یا سرپرستانو هرکلی هم کوي.

**CLB له چا سره کار کوي؟**

له له والدینو سره پر کار کولو سربېره، له زده کوونکي سره کار کول د CLB لومړنی او اصلي لومړیتوب دی. ستاسو اندېښنو ته لومړیتوب ورکول کېږي.

CLB له تاسو څخه غواړي چې په ښوونځي کې د هوساینې احساس وکړئ. له همدې امله له ښوونځي سره په ګډه کار کول د هغه لارښود اړینه برخه ده چې موږ یې چمتو کوو. CLB د ښوونځي د زده کوونکي د سلا مشورې له خدمتونو (د پاملرنې همغږی کوونکی یا د زده کوونکي سلاکار) سره کار کوي. CLB به د اړتیا په صورت کې ښوونکي او د ښوونځي مشر هم ښکېل کړي.

**له CLB څخه کومې پوښتنې پوښتلای شم؟**

تاسو کولای شئ د بېلا بېلو پوښتنو لپاره له CLB سره اړیکه ټینګه کړئ:

- د ښوونځي د ملاتړ یا پاملرنې په اړه پوښتنې
- د زده کړې په اړه پوښتنې: د تعلیمي پروګرام ټاکل، استعدادونه او لېوالتیا، له ښوونځي څخه تېښته او اجباري زده کړه، له لومړني څخه ثانوي زده کړې ته لېږدېدل، زده کړه او کار کول
- روغتیایي ستونزې: وده او لوېېدل، واکسیناسیون، رواني روغتیا، بلوغ، لیدل او اورېدل، د خوراک اختلالات، روږدیتوب، اړیکې او جنسي تمایلات
- په زده کړه کې ستونزې: له لوستلو یا لیکلو کې ستونزې، درسونه خورا سخت یا اسانه دي، ژبې ستونزمنې دي، یا تمرکز، توجه او د زده کړې ستراتېژۍ یوه ننګونه ده
- ټولنیزې ستونزې: په کور کې ستونزې، زور ویل، ستاسو د والدینو طلاق، دا چې له خپلو ملګرو سره څه ډول چلند وکړئ، په خپل پوستکي کې د نارامۍ احساس کول، سترس
- ...

Vlaanderen
is onderwijs & vorming

## CLB څه ډول کار کوي؟

تاسو کولای شئ په مستقیمه توګه په خپله له CLB سره اړیکه ټینګه کړئ. یا په ښوونځي کې د CLB کارکوونکي ته مراجعه وکړئ، یا په آنلاین بڼه دا کار د CLBch@t یا Onderwijskiezer له لارې ترسره کړئ. ښوونځی هم کولای شي د CLB د لارښود غوښتنه وکړي.

CLB به تل له تاسو او/یا ستاسو له والدینو سره خبرې وکړي. موږ به هغه څه ته غوږ ونیسو چې تاسو یې وایاست. موږ بیا دا توضېحات ورکوو چې موږ به له تاسو سره څه ډول مخکې ځو او کار به کوو تر څو ستاسو پوښتنو ته ځوابونه ومومو.

یو شمېر خلک په CLB کې کار کوي: اروا پوهان، مربیان، ډاکتران، ټولنیز کارکوونکي، نرسان او نور کارکوونکي. د CLB کارکوونکي په ټیمونو کې کار کوي او په منظم ډول پر دې بحث کوي چې څه ډول کېدای شي تاسو ترې ډېره ګټه واخلئ. موږ دې ته ټیمي سلا مشوره وایو.

موږ ځینې وختونه اړ یو چې نو اشخاص هم را ښکېل کړو تر څو تاسو ته تر ټولو غوره ممکنه مرسته وړاندې کړو، د بېلګې په توګه د یو تشخیص یا مرستې ترسره کولو لپاره. موږ به په دې اړه تل لومړی له تاسو سره بحر وکړو.

CLB د محرمیت یو رسالت لري. تاسو چې CLB ته هر څه وایاست هغه ستاسو او د CLB تر منځ محرم پاتې کېږي. CLB به دغه معلومات له کوم دلیل پرته له بل چا سره شریک نکړي. هغوی کېدای شي په ځانګړو شرایطو کې دا کار وکړي، مګر ستاسو له والدینو یا د بېلګې په توګه له ښوونځي سره. هغوی به تل له تاسو سره سلا مشوره وکړي. که چېرته تاسو په رښتیا له ګواښ سره مخ یاست، نو د CLB ټیم کولای شي د دغه محرمیت د ماتولو لپاره تصمیم ونیسي. مګر هغوی به په دې اړه تل له تاسو سره له وړاندې بحث وکړي.

د CLB کارکوونکي تل دې ته چمتو دي چې د محرمیت په اړه هرې پوښتنې ته ځواب ووایي.

## د سیستماتیکې اړیکې شېبې

له تاسو څخه تمه کېږي چې د خپلې سیستماتیکې اړیکې د شېبو لپاره چې مخکې د 'طبي معاینانو' په نامه یادېدل، په منظم ډول له CLB سره په اړیکه کې اوسئ. والدین هم له ښوونځي څخه مخکې پړاو په جریان کې د لومړنی سیستماتیکې اړیکې شېبې ته را بلل کېږي. موږ د سیستماتیکې اړیکې دغه شېبې د دې لپاره کاروو چې ستاسو د ودې او پرمختګ څارنه له نږدې وکړو. دا همدارنګه د نورو پوښتنو لپاره هم ښه وخت دی که له تاسو سره وي.

پر دې سربېره، CLB منظم او وړیا واکسیناسیون او تلقیح چمتو کوي.

## له CLB سره څه ډول اړیکه ټینګه کړم؟

- تاسو کولای شئ د خپل سیمه ییز CLB د اړیکې معلومات په Onderwijskiezer وېب سایټ: www.onderwijskiezer.be ي وموئ.
- تاسو همدارنګه کولای شئ له CLB سره په بې نومه او وړیا توګه چت وکړئ. CLBch@t د والدینو لپاره هم دی. د کاري ساعتونو په جریان کې www.clbchat.be ته مراجعه وکړئ
- د زده کړې د کورسونو، هغو مواردو د زده کړې چې باید انتخاب یې کړئ او د لېوالتیاوو، هڅونې او مطالعې د ستراتېژیو په تړاو د خپل ځان اموینې په اړه د معلوماتو لپاره Onderwijskiezer ته مراجعه وکړئ: www.onderwijskiezer.be

Het CLB helpt. Vrij CLB Netwerk — GO! centra voor leerlingenbegeleiding SAMEN KANSEN CREËREN — OVSG De gemeente maakt school — PROVINCIAAL ONDERWIJS VLAANDEREN